مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد عارف رسولي ۲۰۱۹/۰۶/۲۲

# غازي محمد جانخان مرد میدان، ربښتینی ملي رهبر او اتل

## (لومړۍ برخه)

سريزه:

دا مقاله د افغانستان د تاریخ په یوه خورا حساسه دوره یا د افغان – انګریز د دوهمي جګړي په بهیر کي د یوه ربښتیني غازي، مظلوم شهید، د خدای د لارې د یوه سپېڅلي مجاهد او په ټولو معیارونو برابر ملي قهرمان غازي محمد جانخان وردګ د شخصیت، ملي مجاهدو، مبارزو او اتلولیو په پار د هغه سیمینار لپاره لیکل شوې چي د افغانستان د دولت له خوا د دې ویاړلي غازي او مظلوم شهید په ویاړ جوړېږي. مقاله به په څو برخو کي درنو لوستونکو ته وړاندي شي.
په دې مقاله کي د هیواد د وتلو او هغو ملي تاریخ پوهانو د څېړنو او لیکنو په بنسټ چي د حقایقو راسپړلو ته ژمن پاته شوي او د نورو نړیوالو موثقو تاریخي سرچینو په مرسته چي د هند په ملي ارشیف کي د افغان – انګرېز د دریګونو جګړو په هکله خوندي شوي، لیکل شوې ده.
که څه هم د امیر عبدالرحمن خان د استبداد له لاسه او بیا د نورو رژیمونو د بې غورۍ او په هیواد کي د شته ناورینونو د راتلو به پار د ملي ربښتینو مبارزینو سره بې انصافي شوې او خصوصا د غازي محمد جانخان وردګ سره ډېر زیات د مور او میړې چلند شوی دی. کله چي تاسو د غازي محمد جانخان او غازي ملامشک عالم او د هغوی د نورو ملګرو کارنامې او اتلولی څېړئ او د دوی په هکله د لسیزو په بهیر کي د چاروآکو بې پروایي ګورئ، درته روښانه کېږي چي زموږ په ملک کي انصاف او ربښتیا ویلو ته ژمنتیا څومره کمه وه.
په دې مقاله کي د هیواد د وتلي مورخ غلام محمد غبار، د هیواد معاصر ژورنالیزم موسس محمود طرزي، وتلي افغان مورخ او څېړونکي احمد علي کهزاد، وتلي مورخ استاد پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ، کاندید اکادیمیسن محمد ابراهیم عطایي، محترم څېړونکي حبیب الله رفیع صاحب او په تېره د وتلي لیکوال، محقق او څېړونکي او د نهرو د پوهنتون استاد پروفیسور ډاکتر صاحب عبد الخالق رشید د تاریخي څېړنو او کتابونو په بنسټ، مالومات راغونډ کړي دي.

### ولي د غازي محمد جانخان او د هغه د ملګرو کارنامې لولو؟

تاریخ د دې لپاره لولو چي له تېرو پېښو، تېروتنو، لاسته راوړنو د اوس او راتلونکي لپاره ورنه درسونه زده کړو. همدارنګه، د ملي قهرمانانو لکه د غازي محمد جانخان، غازي ملامشک عالم، غازي میر مسجدي خان، غازي میرزمانخان کنړي، امین الله خان لوګري، میربچه خان کوهدامني او نورو ملي اتلانو کارنامې، ژوند، کړنې او تاریخ لوستل له موږ سره مرسته کوي چي د اوس او راتلونکی لپاره د ملي مشرانو او اتلانو معیارونه وپېژنو. زموږ اوسنیو او راتلونکو ملي څېرو ته وریادوي چي که د دین او ملي ګټو او ارزښتونو لپاره قرباني ورکړئ او خلکو ته د سپېڅلي مبارزې، سربښندنو، کړاوونو ګاللو مثال شئ او که کومه غوره لاره او سنت حسنه رامنځته او راتلونکي ته پرېږدئ نو د الهي اجر تر څنګ چي د مسلمان اصلي موخه ده په تاریخ کي به موهم ځای خوندي وي الله تعالی به د هغه چا په شان تر قیامته پوره اجر درکوي چي په هغه سنت عمل کوي، که د کومو لاملونو له کبله سرکار او ځینو قلموالو هېر کړئ، د الله تعالی په دیوان او دفتر، ملي تاریخ او د خلکو په اذهانو کي به تلپاتې شتون ولرئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## یو څو تاریخي حقایق:

ټول ملتونه، فرهنګونه او په تېره موږ مسلمانان باور لرو چې حق په پای کې خپل ځای نیسي، په پای کې حقایق روښانه کېږي، درواغ رسوا کېږي او تاریخ په پای کې هر څه روښانوي. د حقیقتونو د پټولو او یا بل ډول ښودلو لپاره که هر څومره هڅې او د هر چا لخوا وشي، کېدای شي د یو څه وخت لپاره د ځینو کړیو په فکرونو یو څه اغیزه ولري، خو وروسته دا هڅې په کراره رسوا او ځای یې ربښتیا نیسي. خو دا د ربښتینو روڼ اندو، لیکوالانو او مورخینو کار دی چې د حقیقتونو د روښانتیا لپاره کار وکړي. دا چې دا کار څنګه ممکن دی دلته یې تشریح کوو.
د علامه ابن خلدون په اند چې د تاریخ د علم او فلسفي پلار بلل کېږي د تاریخ لیکنې یا هیستوریوګرافي څخه مراد هغه تاریخ لیکنه ده چې د سرچینو د ژورې ارزونې، له هغو څخه د ټاکلو موثقو معلوماتو د غوره کولو او د هغو د جزئییاتو داسي ترکیب دی، چې د ژورو کتنو او ارزونو په وړاندې د وخت په تېرېدو سره خپل اعتبار وساتي. نو باید یوه شو ربښتینی مورخ او څېړونکی له کومو سرچینو کار اخلي تر څو دا حقیقتونه را لوڅ، مستند او ثبت کړي او په علمي توګه یې د خلکو قضاوت ته وړاندې کړي.
هغه تاریخي اسناد، بېلګې او شواهد چې ما په دې مقاله کې ورنه ګټه پورته کړې همداسي سندونه دي چې له ژورو موثقو سرچینو اخیستل شوي، د وخت په تېرېدو به خپل اعتبار وساتي بلکه ورځ تر بلې به د څېړونکو د پام وړ وګرزي.

## دا سرچینې کومې دي:

### ۱ ـ لومړی ولسي کلتور او ادب د یوې سرچینې په توګه:

یوه داسي سرچینه ټولنه او د هغو کلتور، شفاهي ادب لکه کیسې، سرودونه، شعرونه، لنډۍ او خواره واره یادښتونه او لیکنې یې او نور ټول هغه څه دي چې حقیقتونه ساتي او له یوه نسل څخه بل ته یې نقلوي. موږ د غازي محمد جانخان په هکله په ولسي کلتور کې زیات څه لرو. اتلس کاله مخکې یو شمېر د وردګو روڼ اندو غوښتل یوه ټولنیزه، علمي او کلتوري ټولنه په کابل کې رامنځته کړي، د نامه په هکله یې بحثونه کېدل او د خدای فضل دی موږ زیاتي تاریخ ملي څېړې او شخصیتونه لرو خو ما ولیدل چې د غازي محمد جانخان، تاریخي کارنامي، اتلولی، ربښتینولي او مظلومانه شهادت بیا بیا د خلکو خولې ته راتلل او بیا مو د هغه ټولنیز، علمي او کلتوري سازمان نوم د غازي محمد جانخان په نامه ونوموله.
داهم د غازي محمد جانخان د سپېڅلو کارنامو ښکارندویي کوي چې د ده د وخت د استبداد او استعماري دسیسو او سرکار له بې غوریو له لاسه د هغه په هکله مو زیات لیکلي اثار نه لرل. موږ ګورو چې ان په دې وروستیو دوو لسیزو کې چارواکو له غازي محمد جانخان، د هغه له اتلولیو، د هغه له مظلومیت او شهادت سره له څو واره تکراري غوښتنو سره سره مېرانه ونه کړه، نه یې کوم دولتي مډال د هغه په نامه کړ، نه یې کوم سیمینار ورباندې جوړ او نه یې د هغه مزار جوړ کړ چې لږ تر لږه د هغه حق ادا شوی وي.
بیا هم د خدای شکر دی چې جنرال محمد جانخان وردګ د ربښتینو اتلانو خوښوونکو افغانانو په سینو، داستانو، سرودونو، کیسو، نکلونو، سینو کې ځای لري.

لکه خوشال بابا چې وایي:

میړنـي دي چې یادېـږي
پــه سنـدرو هـم په ویـر

باید ووایو چې دلته بې پرې او ربښتینو تاریخ پوهانو او لیکوالانو رول خورا زیات دی او دوی دنده لري چې د خپلو شته تاریخي او ولسي روایاتو په رڼا کې د غازي محمد جانخان غوندې ملي اتلانو په رول باندې څېړنې وکړي، حقیقتونه مستند او د تاریخ حافظې ته یې وسپاري.

## غازي محمد جانخان د ربښتینو افغان مورخینو په څېړنو کې:

ځینو بې پرې او حق غوښتونکو مورخینو لکه غلام محمد غبار صاحب، د افغانستان نامتو مورخ او لرغون پېژندونکي ارواښاد ډاکتر استاد احمد علي کهزاد، د افغانستان د ژورنالیزم پلار محمود طرزي، کاندید اکاډیمیسین محمد ابراهیم عطایي، وتلي مورخ ارواښاد پوهاند ډاکتر صاحب محمد حسن کاکړ، علمي او فرهنګي شخصیت محترم ارسلان سلیمي او نورو پخوانیو په لیکنو کې روښانه او ممتاز ځای لري او د تاریخ حافظې ته یې سپارلی دی، د غازي ربښتینولي بیا بیا سر راپورته کوي او د شهید ژوندی دی حقانیت ته زموږ پام وراړوی، یو څوک شته چې ورته پاملرنه وکړي، څېړونکي او لیکوالان خپل رسالت ادا کوي او له کره سرچینو څخه د غازي د سرښندنو،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تدبیرونو، ربښتینو مبارزو او غزاګانو د افغانستان د تاریخ په یوه خورا بحراني پړاو کې د هغه رول روښانوي. د عوامو زړه ته چې کوم اتل یو ځل لاره ومومي هغه نوم بیانه هېروي.
په دې لړۍ کې محترم غبار د هېواد نامتو مورخ لیکي:
«امیر عبدالرحمن خان غازي محمد جانخان وردکي و برادرش محمد افضل خان، عصمت الله خان جبار خیل، بهرام جبار خیل و چندین نفر دیگر محبوس نمود و به غلط اوازه انداخت که جنرال محمد جانخان بتوصیه انگلیس سپهسالاری افغانستان میخواست و دیگرها پیمان کرده بودند که مرا در حین سفر قندهار بکشند.» همچنان غبار می نویسد این روش عام سیاست انگلیس بود که در هر جا مردم مبارز و نجیب کشور را بازور پروپاګند، جعل اسناد و افترا و اتهام دربین جامعه بدنام کرده و باز از بین میبردند. غبار در مسیر تاریخ. ص 658.»توصیه انگلیس سپهسالاری افغانستان میخواست و دیگرها پیمان کرده بودند که مرا در حین سفر قندهار بکشند.
اروابناد غبار لیکي، ترجمه: د انګرېزانو تبلیغاتي دسیسې او تخریبي فعالیتونه تر نظامي فعالیتونو زیات اغیزمن وو او د دوی په کتّه یې عمده کټې لرلې، لکه چې د دسامبر د ۲۳ مې د جنګ څخه وروسته یې یو خاینانه پروپاګند په ټول کابل او اطراف سیمو کې خپور کړ او هغه داچې: « جنرال محمد جانخان غازي د شېرپور په محاذ کې د ملي قوتونو د دسمبر د ۲۳ مې شاتګ په قصدي توګه پلان او ترسره کړی او ملي غازیان یې شاتګ ته سوق کړي، ځکه جنرال له انګرېزانو سره جوړجاړی کړی او یو صندوق طلا یې تر لاسه کړې ده.» په داسې حال کې چې وروسته خلک پوه شول چې دغه له دښمنی ډک تهمت د انګرېزانو یوه دسیسه وه، او د ملي قوتونو د عقب نشینی سبب د پادشاه خان په نامه کوم کس و چې په سهوه او یا قصدي توګه د قوتونو د شاتګ لامل شوی و.
په یوه بله دسیسه کې انګرېزان د ولي الله خان په مرسته په غزني کې چې د کاپیسا او پروان په څېر د ښمن په وړاندې د غازیانو د تجهیز، سوق او اداري مرکز و درز او اختلاف رامنځته کړ او د پښتنو، تاجکو او هزاره ګانو په منځ کې شخړې رامنځته کړې. کله چې دا خبر کابل ته راورسېد نو سمدستي ملامشک عالم ورغی او هلته هم دوو نورو ملي شخصیتونو هر یوه عبدالقادر خان تاجک او ګل محمد خان اندري د ولی الله خاینانه دسیسه خنثی کړې وه او دا درې قومونه یې سره پخلا کړي وو.
محمد جانخان د ځای او مقام په هکله چې د ټولو افغانانو په منځ کې یې درلود په یوه دري شعر کې بیان کړی چې په هغه کې محمد جانخان مرد میدان بلل شوی دی او خلکو د ده او د ده د ملګرو مبارزینو په هکله ویلی دی او په لاندې کې یې تشریح کېږي.

**اروابناد غبار لیکي**: کله چې د انګرېزي قواوو عمومي قومندان رالبرټ شوی و چې د کابل ټول نظامي تاسیسات او جنګي قلاوې د بالا حصار په شمول ونړوي، مالي سیستم یې ویجاړ او ملي شخصیتونه یې له تیغه تېر کړي، د دې خاورې زړورو او مېړنیو خلکو یو ځل قهرماني وکړه. جنرال رابرټس د کابل خلک راوغوښتل چې د ده خبرې واوري، خلکو چې هغه د انګرېز په نظامي لباس کې ولید چې تاس سر یې و نو «راپټ کل» یې نوم ورباندې کېښود. وروسته د خلکو حملې ورباندې پیل شوې او دا ترانه به یې ویله:

| | |
|---|---|
| محمد جان مرد میدان است | ایوب خان شیر غران است |
| میربچه خان رس رسان است | آزادی فخر افغـــان است |
| راپټ کل لات کـــلان است | بـیـا بـیـادر انګور بخـو» |

( تاریخ غبار، ص ۶۲۴)

کله چې یو وړوکی ملت د یوه نړیوال سرېخور ښکېلاکګر قوت د اشغال په وړاندې وسله واخلي دلته یوازې وینې نه بهیږي، بلکه استعمار خپلو جاسوسانو ته شهرت، واک او زیات امکانات ورکوي، زیات خلک په پیسو اخلي، د قومونو او شخصیتونو په منځ کې بېلتون ته لمن وهي، په وتلو او پاکو ملي شخصیتونو او مشرانو پسې تهمتونه وایي او یا یې په ګرمه جګړه کې شهیدان کوي او میدان شغالانو ته پاته شي. خو دا د خدای سنت دی چې له څه وخت وروسته حقیقت روښانه شي، پاکان له خاینانو بېل شي.
وتلی ملي مورخ استاد کهزاد په یوه لیکنه کې د غازي محمد جانخان په هغو څو تمرکز کوي چې ده څنګه د افغانستان ورونه قومونه هڅول چې د انګرېز په وړاندې د غزا او جهاد په لیکو کې منظم شي. همدارنګه، د غازي محمد جانخان په نظامي مهارتونو، ربښتیولی، زړورتوب او په خلکو کې د ښه شهرت په لرلو یې زیاتې خبرې کړې دي.
دا مقاله هم ډاکټر صاحب خالق رشید په خپل اثر کې د اروابناد کهزاد صاحب د فرهنګي بنیاد څخه رانقل کړې ده.
د افغانستان د معاصرو ادبیاتو، تاریخ لیکنې او ژورنالېزم پلار محمود طرزي صاحب هم د غازي محمد جانخان په هکله لیکنې کړې دي او هغه یې یو ملي اتل او ربښتینی مبارز او غازي بللی دی.
محمود طرزي د غازي محمد جانخان په هکله لیکي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

یعقوب خان یې ونیو زما وروره
نور یې زر کوز کړ له لاهوره
اوس د خاوند کارونه ګوره
شاباش په محمد جان شه پوریې وګاته عالمه
پوځونه یې کړل جمعه
محمد جان وکړله توره
ده په هرځای کې مشهوره
که خپل خاوند ته شي مشهوره
راویې ښکه پرنګي کړو له خیبره یې بهار
خاوند که تار په تار
محمد جانخان وکړ مطلب
راضي په ده باندې و رب
دی په هرځای کې یې دبدب
خپه پرې پرنګیان شول سترګي یې ډکې دي له نمه
پوځونه یې کړل جمعه

پرنګیان راغله په ماتي
کولي به دوی زیاتي
کابل شه له دوی پاتي
شاباش په محمد جان شه مدام به و خوشرنګ
اختیار کوي د جنګ

(محمد طرزي، خاطرې د یوې لنډې دورې لنډ تاریخ ۱۰۱ مخ)

کاندید اکادیمیسن محمد ابراهیم عطایي په خپل اثر: «**د افغانستان معاصر تاریخ ته یوه لنډه کتنه**»، کې لیکي او دلته یې موږ د نمونې په توګه راوړو: ... «کله چې د امیر شیرعلي خان یو زوی او یو ورور د قندهار په جنګ کې مړه شول نو په عصبي ناروغی اخته شو، خپل دوه زامن سردار محمد ایوب خان او محمد یعقوب خان یې د خپلي ګراني ښځې په خوله ګوښه کړل، انګریزانو په خورا مهارت خپل جاسوسان لکه د یعقوب خان تره سردار محمد حسن خان او ولي محمد خان چې مشهور په لاټې و فعال او دواړه د انګریز جاسوسان وو. په خواشینې سره په افغاني سردارانو کې د سر سړی نه و پاته چې ملت رهبري کړي او ملت بې واکمنه او بې دولته و.
کله چې افغانانو کیوناری چې د ګندمک سند یې لاسلیک کړی و او د انګریز ملکي ورته غوره دولتي القاب ورکړي و، سره له ۱۲۳ ملګرو یې په بالا حصار کې ووژاه انګریزان سخت وارخطا شول، جنرال رابرټس او نور یې بیا د غچ اخیستلوپاره له نورو پوځونو سره راغلل او له دریو خواوو یې په افغانستان برید وکړ، کابل یې وران کړ او زیات افغانان یې شهیدان کړل.
**په دې وخت کې افغان مبارزینو د ملامشک عالم او محمد جانخان او نور راغلل او یو ځل بیا د افغانستان او نګریز د لوی جنګ صحنې رامنځته شوې»**. دلته هم ګورو چې محمد جانخان د ملي مبارزینو ممتازه څېره یادېږي.
د محترم اروانباد غبار، اروانباد کهزاد او اوس د ډاکټر صاحب خالق رشید د لیکنو او څېړنو په بنسټ د جنرال محمد جانخان وردګ د اتلولیو څخه د کابل د قلعه قاضي غزا او د شېرپور محاصره دي. په قلعه قاضي کې غازي محمد جانخان او ورسره ملي غازیانو د ۱۸۷۹ کال د دسمبر په ۱۱ مه قلعه قاضي ته د کابل د نورو سمتونو له مجاهدینو سره په همغږۍ کې داخل شول، نورو ملي مبارزینو او غازیانو هم د کابل په ټولو سمتونو کې لکه کاریز میر، پغمان، چارآسیاب او نورو سمتونو کې سنګرونه نیولي وو او په انګریزي قواوو یې بریدونه کول. د انګریز د قواوو عمومي قوماندان جنرال رابرټس نور قوماندانان د کابل نورو سمتونو لکه کاریز میر ته د مجاهدینو د مقابلې لپاره واستول.
د قلعه قاضي په سمت یې د جنرال میسي په مشرۍ قواوې واستولې. د محمد جانخان په مشرۍ غازیانو انګریزانو ته سخت تلفات واړول. جنرال رابرټس اړ شو خپله د محمد جانخان د قواوو مخې ته د جنرال میسي د قواوو د نجات لپاره ورشی. **په قلعه قاضي کې مشهوره او تاریخي پرېکنده جګړه ونښته او د غازیانو او د رابرټس د قواوو تر**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**منځ په پای کې بیخي تن په تن جګړه وشوه. جنګ دومره شدید و چې د جنرال رابرتس قواوو خپله ماته ولیده، زیات کسان یې له لاسه ورکړل نو خپلو ټولو قوتونو ته په ټولو محاذونو کې امر وکړ چې جنګ بس کړي او د شېرپور جنګي قلا او چوڼۍ ته شاتګ وکړي. همدارنګه یې په کابل کې ټولو انګرېزانو ته امر وکړ چې د کابل له نورو سیمو راټول او شېرپور ته پناه راوړي...** جنرال رابرتس خپلو سپرو قواوو ته امر وکړ چې د خپلو قوتونو د فرار په وخت په ګذرګاه او دهمزنګ په تنګه کې سنګر ونیسي تر څو د شاتګ په وخت د خپلو قوتونو حمایه وکړي خو کله چې دغه مشهور انګلیسي جنرال خپل مړي ولیدل نو خپل آس ته یې قمچینه ورکړه او د خپل حمایوي سپرو عسکرو نه مخکې یې تېښته اختیار کړه او شېرپور ته وتښتېده او له دې حمایوي سپرو یوازې څلوېښت تنه له ده سره په تېښته بریالي شي او نور ټول ووژل شول. همغه وو چې تر سبا پورې ټول انګرېزان شېرپورته ورننوتل، دروازې یې په ځان پسې بندې کړې او کابل له ټولو سنګرونو او غرونو سره د غازیانو تر کنترول لاندې راغی.

اروابناد غبار لیکي: ملي قوتونو چې انګرېزان تر شېرپوره زغلولي وو، خپله قبضه یې په ښار نوره زیاته کړه. تره خیلو د مرنجان غونډۍ، لوګریانو بالاحصار خپل مرکز وګرزاوه او د تخت شاه او شېردروازه سنګرونه یې ټینګ کړل. **ملامشک عالم او محمد جانخان د کابل ښار په خپل کنترول کې راوستلو.** د دسمبر په ۱۴ هم غازیانو په ټولو محاذونو کې په دښمن ناتار جوړ کړ او د شیرپور محاصره او له انګرېزانو سره جګړو دوام وکړ، انګرېزانو نور عسکر له پېښوره را وغوښتل خو په ټولو جګړو کې یې ماتې وخوړې. په پای کې جنرال رابرتس یقین ترلاسه کړ چې په زور دوی په افغانستان حکومت نه شي کولۍ او پوه شو څرنګه د انګرېز نظامي لیکوالانو ویلي و الفنسټن او مکناټن ملامت نه وو چې په افغانستان کې یې ماتې خوړلې وه، ځکه له داسې یوه ملت سره مخ وو چې هر یو کس یې د آزادۍ په مینه سر په لاس کې نیولی دی او له وطنه دفاع کوي.

دلته جنرال رابرتس خبر شو چې د غازیانو مشران د نورو قوتونو په راټولولو پسې تللي دي. محمد جانخان وردګ وردګو او غزني ته تللی، ځینې نور مشران لوګر، کوهدامن، کوهستان، تګاو، نجراب، پنجشیر، غوربند او نورو ځایونو ته تللي دي تر څو غازیان له انګرېز سره د جنګ لپاره تیار کړي. جنرال رابرتس چې د غازیانو د مشرانو له دې خوځښتونو خبر شو نو د مصالحې لارې یې ونیوله، د ۱۸۸۰ کال د جنورې په میاشت کې یې یوه اعلامیه خپره کړه چې د انګلیس دولت له افغانانو سره نور جنګ نه غواړي او غواړي خپلې قواوې له افغانستانه وباسي.

**ټول افغان څېړونکی او لیکوالان په دې اند دي او ټول تاریخي لاسوندونه ښیي چې که سردار عبدالرحمن خان و انګرېز ته بیخي تسلیم شوی نه وای، یا لږ ترلږه یې د امیر شیرعلي خان په شان د انګرېز خبرې نه وای منلې او خپلو ملي او افغاني غازیانو ته یې لاس ورکړی وی نو هم به انګرېزان وتلی وای، هم به مو ملک له تجزیې بچ شوی وای او هم به یو قوي مرکزی حکومت جوړ شوی وای.**

**د دې په هیله چې زموږ رښتیني ملي اتلانو ته یو شان درناوی وشي.**

نور بیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ